محمد هارون خپل شعشعی


۱۹ جنوری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د يرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي شننه
# ۳

**دوهمه برخه:د روم اساسنامي په رڼا کي د يرغلګرو لښکرو د بشري ضد او جنګي جنايتو و متشکله عناصرو ته يو لنډه کتنه**

**مخکي مو** د بشريت ضد او جنګي جنايتو په اړه د بين المللي حقوقو د تر ټولو نوي او بشپړ سند ياني د جزا د بين المللي محکمي د روم اساسنامي د اوومي او اتمي مادې په متن کي د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي تعريفونه، متشکله عناصر، بېلابېل ډولونه، شرايط او حالات يو په يو تر نظر تېر کړل. د ليکني په دې برخه کي، د بشري ضد او جنګي جنايتو د لا ښې او دقيقي پېژندني په خاطر د هغو پر متشکله عناصرو لنډي خبري کوو؛ او د مستندو دلايلو په وړاندي کولو سره ښيو، چي د افغانانو پر خلاف د يرغلګرو لښکرو په بشري ضد او جنګي جنايتو کي د روم اساسنامي د اوومي او اتمي مادې تصريح سوي متشکله عناصر، په بشپړه توګه تحقق مومي.

لکه څنګه چي د جزا د بين المللي محکمي د روم اساسنامي د اوومي او اتمي مادې په ژباړل سوي متن کي راغلي دي، يوه جُرم ته يوازي هغه مهال د بشريت ضد يا جنګي جنايت وصف ورکول کيږي، چي په کولو کي دغه دوه متشکله عناصر يا شرطونه تحقق و مومي:

- اول دا چي بشري ضد يا جنګي جنايتونه څو پلا سوي يي. ياني پراخه او سيستماتيکه بڼه ولري.

- دوهم دا چي دا ډول جنايتونه بايد د يوه دولت يا سازمان د پاليسی يا تګلاري پر اساس سوي يي(که څه هم د داسي جنايتکارانه پاليسی طراحان او مبتکران رسماً مالوم نه يي).که جرمونه د يوه دولت يا سازمان د رسمي پاليسی له مخي نه يي سوي، نو لږ تر لږه يي بايد حکومت يا ډيفاکټو( عملاً موجودي ) واکمنی د کولو اجازه ور کړې يي.که يي رسمي اجازه نه وه ورکړې، بيا يي د ضمني اجازې په توګه بايد پر کولو سترګي پر پټي کړي يي.

راسئ اوس نو د روم اساسنامي د اوومي او اتمي مادې د مندرجو احکامو په چوکاټ کي وګورو، چي د يرغلګرو لښکرو جنايتونه د بشري ضد او جنګي جنايتو معيارونه پوره کيي که څنګه؟!

که زموږ په اشغال سوي او استعمارځبلي هيواد، افغانستان، کي د ملکي وګړو وژل او ټپي کول، د بې ګونا خلګو سترګي، لاسونه او پښي ترل، په سپو داړل او ښرول، د بمو او نورو چاوندونکو موادو په زور د کورو د دروازو الوزول؛ د کورو، دوکانو، ماڼجتو او شنو باغنو ورانول، د مړو سپکاوی او بې حرمتي، د خلګو د ديني مقدساتو او

اولسي دود و دستور مسخره کول او بې شماره نور جنايتونه، چې بشپړه يادونه يې د دې لنډې ليکنې تر حوصلې وتلې خبره ده، د يوه، دوو، پينځو يا لسو وارو خبره يې، بيا خو هر څوک حق لري، چې د انفرادي، بې ربطه او خورو ورو پېښنو نوم پر کښيږدي؛او په دې توګه يې د بشري ضد او جنګي جنايتو له ډلې څخه و باسي؛ مګر زموږ په لتاړ سوي او بې پوښتني هيواد کې خو د امريکايي او ايتلافي لښکرو دا ډول جرمونه او جنايتونه يوه، دوې، لس، شل، سل او حتا زر پېښې نه دي. دا وحشيانه جنايتونه پراخه ، سيستماتيکه او د ځنځير د کړييو په شان تړلې بڼه لري. ويکي ليکس(**Wikileaks**) يوازې د برتانوي عسکرو له خوا د ملکي خلګو د وژنې او بمبارۍ يوويشت (٢١) جلا جلا پېښې ثبت کړې دي. البته، دا يوازې د ويکي ليکس د رپوټ خپرولو تر وخته د برتانوي لښکرو د ځينو رسوا سوو جنايتو شمېر دئ، چې نه د جنګ او جګړې، بلکې يوازې او يوازې د« ودانولو» يا « بيا جوړولو» په نامه و افغانستان ته تللي دي. ښه مې په ياد دي، چې د انګلستان د واکمن کارګر ګوند د دفاع وزير، جان ريډ **(John Reid)** د پارلمان و وکيلانو ته ډاډ ورکاوه، چې انګريزي عسکر به هيڅکله د افغانستان په وسله والو شخړو او جګړو کې برخه وانخلي؛ او بې ټک و ټوکه به بېرته خپل هيواد ته را ستانه سي. په افغانستان کې د امريکايي لښکرو پخواني عمومي قومندان - جنرال سټنلي مکريسټل(**General Stanley McChrystal**) په خپله د امريکايي او ايتلافي پوځو له خوا د مظلومو او بې ګونا افغانانو د وژنې په باره کې داسې اعتراف کړئ دئ:« موږ په اريانونکې توګه دونه زيات خلګ ويشتلي دي، چې يو يې هم زما له مالوماتو سره سم و موږ ته ګواښ نه ؤ.» [١٠]

ټول جهان ته روښانه ده، چې له تېرو يوولسو کالو راهيسې د افغانانو پر ويرجن ټاټوبي، په تېره بيا د ډيورنډ د کرغېړني او مردودې فرضي کرښې په دواړو خواوو کې د زړورو او خپلواکې مينو پښتنو د استوګنې پر سيمو د مرګ او وحشت څه چپه او راسته مېچني څرخي؛ شپه او ورځ يې پر کورو او کلو هوايي او ځمکني بريدونه کيږي. حتا د ودو او جنازو پر مراسمو يې هم څو څو واره وحشيانه بمبارۍ سوي دي. په افغانستان کې د ملګرو ملتو د مرستو د ادارې ( يوناما) او د کابل د مزدور رژيم د بشر د حقوقو د تشه په نامه« خپلواک کميسيون » د رپوټ له مخې يوازې په (٢٠١١ع )کال کې زموږ د وژل سوو هيوادوالو شمېر و درې زره يوويشت (٣٠٢١) او د ټپيانو شمېر يې و څلور زره پينځه سوه اووه ( ٤٥٠٧) ته ورسېدئ.[١١]يقيناً دا يوازې د هغو مرګ ژوبلو شمېر دئ، چې د يوناما او مزدور رژيم د بشر د حقوقو د کميسيون له خوا ثبت سوي دي؛ ځکه د هغو ملکي کسانو شمار لږ نه دئ، چې د ايتلافي قواوو يا وسله والو مخالفينو په ړندو بريدو کې مړه يا ټپي سوي دي؛ خو نومونه يې تر اوسه په هيڅ دفتر او ديوان کې نه دي ليکل سوي. سربېره پر دې، دا ستر انساني ضايعات فقط د يوه کال په موده کې د دې ناروا او انساني ضد جګړې د قربانيانو اعداد او ارقام ښيي. نتيجه دا چې په دې استعماري تاړاک کې د افغان اولس د انساني ضايعاتو او مالي تاوانو دقيق او بشپړ تصوير يوازې هغه مهال تر ګوتو کېدای سي، چې د ډيورنډ د آ غاړې پښتنو، په تېره بيا کړېدلو او مظلومو قبايلو مرګ ژوبلې او مالي تاوانونه هم ور سره ملګري سي؛ ځکه ټولو افغانانو او باخبره نړيوالو ته څرګنده ده، چې دې ظالمانه جنګ له چترال څخه تر کراچي پورې د ټولو کښته پښتنو پر مېنه هم سره اورونه بل کړي دي. ډرونونه يا د امريکايي استعمار د مرګ او وحشت ماشينونه هره ورځ د افغانستان په پښتني سيمو او د ډيورنډ د آ خوا په قبايلي سيمو کې خونړي ناتارونه زېږيي. د دې ړندو راکيټي بريدو له شامته د قبايلي سيمو اوسېدونکي، په تېره بيا کوچنيان او ښځې په دردناکو روحي ناروغييو او ذهني ناارامييو اخته سوي دي. عام خلګ په اسمان کې د بې پيلوټه الوتکو د وحشتناکه ږغ له اورېدوڅخه هم په مرګ تراه کيي.[١٢]

زه نه پوهېږم، چې جنايت کول، تروريزم او وحشت خپرول ښکرونه لري که لکۍ ؟! اوباما او د هغه غربي متحدين دي اول د خپلو باپيلوټو او بې پيلوټو الوتکو په ړندو او ظالمانه بريدو کې د معصومو کوچنيانو، ښځو او زړو وحشيانه قتل عام او چنګيز ډوله ورانکارۍ په دقت وګوري، بيا دې د نړۍ و نورو ملتو ته د « انساندوستۍ »، « ډيموکراسۍ

»، « د ښځو د حقوقو »، « عدالت »، « برابرۍ »، « قانونواکۍ » او« زغم » ليکچرونه ورکيي. ګرانو لوستونکو به د تلوېزونو له لاري ليدلي يي، چي اوباما په زياترو تشريفاتي غونډو او مراسمو کي خپلي لونې په غېږ کي نيسي؛ او په دې توګه د يوه مهربان پلار اکټونه او پېښې کيي؛ خو يو ځل د هغو پلرو د سوځونکی درد د پوهېدو هڅه نه کيي، چي هره ورځ يې د ده د لونو په څېر تنکي او ګلالي بچيان د يرغلګرو امريکايي او ايتلافي لښکرو په ناروا او ظالمانه بمبارييو کي په وينو لت پت کيږي؛ له يوه عالَم انساني ارمانو سره د ژوند تر پايه معيوب او معلول پاتيږي؛ او په راز راز روحي ناروغييو او ذهني ناخوالو اخته کيږي. دا خبري اوس پر افغانانو سربېره و ټول جهان ته څرګندي دي، چي ځيني پلرونه او مندي د ډرون بريدو له بيري نه يوازي خپل بچيان و بازييو او ساتېري، بلکي زده کړي او ښوونځی ته هم نه پرېږدي. غټان هم وتېرو خونړييو پېښو ته په پام سره، له دې وحشته په ودو، جنازو، عامو غونډو او ميټينګو کي و برخي اخيستني ته زړونه نه ښه کيي، چي د امريکا د انسان وژني ړانده ماشينونه د وسله والو مخالفينو ګومان پر و نه کي. واقعيت دا دئ، چي امريکايي او ايتلافي لښکرو په وارو وارو د افغانستان په بېلابېلو ولايتو کي په ړدو سترګو او بېساري باکی زموږ داسي معصوم کوچنيان په ګوليو ويشتلي دي، چي يا په خپلو کلو او کوڅو کي په ساتېري او بازييو اخته وه يا يې د خپلو کورنييو د غريبی او بېچارګی په وجه دلته و هلته پېلوزی، لرګي يا خوشايي/ غوشايي ټولول. د نړۍ د بېنوا اولسو، په تېره بيا مظلومو پښتنو و سپيني مانۍ ته د اوباما تر رسېدو مخکي تصور کاوه، چي دا دردېدلی او کړېدلی

تور پوستی به ډېر ژر د دوی د ناپايه دردو او غمو داستان هم پای ته ورسيي؛ خود هغه له بې مسووليته ډرون وژنو او يرغلګرو استعماري سياستو څخه اوس ټول خواتوري او نامېنده دي. حقيقت دا دئ، چي استعماري ګټو د هغه په وجود کي د بشري وجدان او سالم قضاوت ريښې وچي کړي دي، که نه نو له څو کلونو راهيسي به د مظلومو پښتنو پر کور او کهول داسي ظالمانه او وحشيانه اورونه بل نه وای. له دې استدلال څخه دا نتيجه اخلو، چي د امريکايي پوځ دا عامه، پراخه او پرله پسې پښتون وژنه اوس تر بشري ضد يا جنګي جنايت پورته د ټولوژني يا جېنوسايډ و حد ته رسېدلې ده.

---

**لمنليکونه**

[10] **Seumas Milne**, “Massacres are the inevitable result of foreign occupation”, guardian.co.uk, Tuesday13 March 2012:

**http://www.guardian.co.uk/commentisfree/2012/mar/13/massacres-result-of-foreign-occupation**

[11] **——, “Civilian casualties in the War in Afghanistan (2001–present)”, From Wikipedia, the free encyclopaedia:**

http://en.wikipedia.org/wiki/Civilian_casualties_in_the_War_in_Afghanistan_(2001%E2%80%93present)#Civilian_and_overall_casualties_.282011.29

[12] Rachel Maddow & Amna Nawaz, “**Exclusive Video Shows Aftermath of US Drone Strike in Pakistan: Victims of secretive US drone strikes gain voice in Pakistani lawyer**”, NBC News**,** Posted July 01, 2012:
http://www.informationclearinghouse.info/article31749.htm

پاته په بله برخه کي